داساسي قانون دکمېسيون
دارالانشاء

# پوښتنلیک

۱۳۸۲ لمریز کال

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

د لوی او متعال خدای ﷻ په مرسته د افغانستان د اساسي قانون کمېسیون د 1382 کال دغبرګولي د میاشتې په (17) مه نېټه د خپل کار خورا مهم پړاو، د عامه نظر غوښتنې بهیر پیل کړ. د اساسي قانون د کمېسیون غړي به دافغانستان هر ولایت، همدارازایران او پاکستان ته سفر کوي ترڅو داساسي قانون د وروستۍ مسودې د برابرولو لپاره دخلکو نظرېې او غوښتنې ترلاسه کړي. اساسي قانون دهرې ټولنې د هیلو، افکارو او فرهنګ انعکاس دی نو له دې امله د اساسي قانون د کمېسیون غړي نه شي کولای چې د افغانستان د خلکو د نظریو او غوښتنو له اورېدلو څخه پرته نو موړی اساسي قانون تسوید کړي.

د تسوید کمېسیون د اساسي قانون یوه لومړنۍ مسوده ترتیب او داساسي قانون د تدقیق دکمېسیون له غړیو سره یې شریکه کړه. نوموړي مسوده د اساسي قانون د مسلو په وضاحت کې ګټوره ده ولې د اساسي قانون کمیسیون به دغه مسودې ته ترهغه وخته پورې وروستي بڼه ورنه کړي او نه به د اساسي قانون د مسلو په اړه خپله وروستۍ پریکړه وکړي ترڅو پورې چې یې د ولس نظرېې او غوښتنې نه وي ترلاسه کړي.

د عامه نظر غوښتنې د بهیر لپاره د اساسي قانون په اړه پوښتنې او مسلې به د دې لپاره خپرې شي چې دکمیسیون دغړیو سره دکسانود نظریو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي، د کمیسیون غړي هیله لري چې دغه پوښتنې او مسلې به د هغو خلکو لپاره د یوه بشپړ او جامع لارښود په توګه کار وکړي، چې غواړي خپلې نظرېې د کمیسیون غړیو ته په شفاهي او یا تحریري ډول ور وسپاري.

دغه پوښتنې او مسلې یوازې د لارښود شکل لري، مکملې نه دي او نه دا معنی لري چې د هغه فرد اویا ډلې مخه ونیسي څوک چې د اساسي قانون په اړه مهمې پوښتنې او مسلې راپورته کوي. د اساسي قانون دکمیسیون ترټولو مهمه دنده داده چې د خلکو نظریو ته غوږ کېږدي او بیایې د اساسي قانون د مسلو شکل ته راواړوي. هر نظر ته په درنه سترګه کتل کېږي. دکمېسیون دارالانشاء د همدې موخې لپاره اته (۸) سیمه ییز دفترونه په افغانستان او څلور ۴ دفترونه په ایران وپاکستان کې پرانیستي دي، د راتلونکي اساسي قانون په اړه لیکلې سپارښتنې کېدای شي یا نوموړو سیمه ییزو دفترونو ته اویا هم په مستقیم ډول کمېسیون ته واستول شي.

د ولس دنظریو ترغونډولو او څېړنې وروسته به کمیسیون یو رپوټ برابر کړي چې دا څرګنده کړي چې د ولس نظرېې د اساسي قانون د وروستۍ مسودې د جوړولو پرمهال څرنګه په پام کې ونیول شوې. د کمېسیون غړي به نوموړی رپوټ د اساسي قانون له وروستۍ مسودې سره یوځای خپور او د افغانستان ولس ته به په پراخه اندازه وویشل شي.

ستاسو د نظریو د ترلاسه کولو په هیله یو.

پوهاند نعمت الله شهرانی

د دولت د رئیس مرستیال او دافغانستان د اساسي قانون د کمېسیون رئیس

## سریزه یا د دولت اساسي اصول

ډېر اساسي قوانین د یوه لنډ متن په بڼه یوه سریزه لري، چې په هغې کې پخپله د اساسي قانون، د هغه پر تاریخي اهمیت او ارزښتمنو پرنسیپونو لکه د اسلام د سپېڅلو اصولو په پام کې نیول، د ملي ارزښتونو او نړیوالو کنوانسیونونو په برخه کې خبرې اترې کېږي. اساسي قوانین د دولت د لارښوونکیو اصولو دنده هم پرغاړه لري. ځینې اساسي قوانین د دولت هغه هدفونه او مهم اصول په ګوته کوي، چې د هغو له مخې د هېواد ملي بنسټونه اېښودل کېږي.

**لومړۍ پوښتنه: د نوي اساسي قانون د سریزې لپاره ستاسو سپارښتنې څه دي؟**

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

**دوهمه پوښتنه: په نوي اساسي قانون کې باید د افغاني ټولنې کوم ځانګړي ارزښتونه او اصول ځای کړای شي، چې د دولت لارښوونه وکړي او سوله، کراري، یو والی او ملي پخلاینه پیاوړې کړي؟**

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

## مذهب

**تقریباً ټول افغانان مسلمانان دي نو اساسي قانون به داسلام د سپېڅلي دین پربنسټ ولاړ وي.**

**دریيمه پوښتنه: څرنګه، چې افغانستان یو کثیرالملیتي هېواد دی، نو طبعاً پکې د بېلابېلو مذهبونو پیروان شته، ستاسو په نظر باید په اساسي قانون کې ددې مذهبونو اړیکې څنګه تنظیم شي؟**

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

څلورمه پوښتنه: دې حقیقت ته په پاملرنې سره، چې یوشمېر افغانان له اسلام پرته د نورو ادیانو پیروان دي، ستاسو په نظر اساسي قانون باید له دې مسئلې سره څه ډول چلند وکړي، په ځانګړي ډول که دا هم په پام کې وي چې نوی اساسي قانون ملي یووالی پیاوړی کړي؟

..........

..........

..........

..........

..........

## د ولس حقونه

د اساسي قانون یوه خورا مهمه دنده دا ده، چې د ولس حقونه په ګوته، خوندي او تضمین کړي.

پنځمه پوښتنه: ستاسو په فکر د ولس کوم حقونه په دغه اساسی قانون کې باید خوندي او تضمین شي؟

..........

..........

..........

..........

..........

شپږمه پوښتنه: آیا ستاسو په ټولنه کې داسې ډلې، لکه ښځې، کونډې، یتیمان، دجګړې د شهیدانو وارثان، معلولین او معیوبین ، ماشومان او نور شته، چې تاسو احساس کوئ له هغوی سره تل ورړ چلند نه کېږي او دولت باید له هغوی سره مرسته وکړي؟ که ځواب مثبت وي، کومې ډلې دغې مرستې ته اړتیا لري او کوم اقدامات باید په پام کې ونیول شي؟

..........

..........

..........

..........

..........

اوومه پوښتنه: اساسي قانون څنګه کولای شي د افغانستان د ټول ولس لپاره امنیت ټینګ او وده ورکړي؟

..........

..........

..........

..........

..........

اتمه پوښتنه:    نوی اساسي قانون څنګه کولای شي، چې د ولس حقونوته تحقق وبښي او ملاتړ یې وکړي؟

## حکومتی سیستم

نهمه پوښتنه:  څو حکومتي سیستمونه شته لکه ریاستي، پارلماني، شاهي او مختلط نظام، تاسو ددغو حکومتي سیستمونو له جملې څخه کوم یو غوره کوئ؟

(۱۰)مه پوښتنه: آیا د هېواد مشر باید جمهور ر ئیس وي چې مستقیما د ولس له خوا ټاکل کېږي او یا لومړی وزیر وي چې د پارلمان له خوا منصوبېږي؟

(۱۱)مه پوښتنه: آیا افغانستان باید یو مختلط سیستم ولري، چې په هغه کې جمهور رئیس او لومړی وزیر مشترک ځواک ولري؟ که ځواب مثبت وي، دغه ځواک باید څنګه شریک او استعمال شي؟

(۱۲)مه پوښتنه:  د هېواد مشر باید څه ځانګړني او شرایط ولري؟

## پارلمان

پارلمان په پخوا وخت کې دوه غونډې درلودې، ولسي جرګه چې د ولس له خوا به ټاکل کېده او د مشرانو جرګه چې ۱/۳ برخه غړې به يې د دولت د مشر له خوا او ۲/۳ برخه غړي به يې د ولايتي شوراګانو او د ولاياتو د اوسېدونکو له خوا ټاکل کېدل.

**(۱۳) مه پوښتنه:** ستاسو په فکر پارلمان بايد دوه غونډې ولري او که يوه؟

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

**(۱۴) مه پوښتنه:** د پارلمان استازي بايد څنګه انتخاب يا انتصاب شي، چې تاسو ته غوره خدمت وکړي؟

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

## لويه جرګه

لويه جرګه د مهمو مسلو د حل لپاره جوړېږي.

**(۱۵)مه پوښتنه:** آيا لازمه ده، چې اساسي قانون د مهمو مسئلو په اړه د تصميم په برخه کې د لويې جرګې جوړېده په پام کې ونيسي؟ که داسې وي نو لويه جرګه بايد کوم مهم موضوعات وڅېړي؟

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

**(۱٦) پوښتنه:** په داسې ډول چې د افغان ولس د بېلابېلو ډلو استازيوتوب وکړي، دلويې جرګې غړي بايد څنګه وټاکل شي؟

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

..........................................................................................................................................................................................

## اداري جوړښت

(۱۷) مه پوښتنه: اساسي قانون کولای شي د ولایت، ولسوالۍ او کلي په سطحه شوراګانې په پام کې ونیسي اوکه نه؟ که ځواب هو وي، نو ددغو شوراګانو یو تربله او له مرکزي دولت سره یې اړیکې باید څه ډول وي؟

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

(۱۸) مه پوښنه: آیا داسې خاص تدابیر باید موجود وي چې په هره حکومتي سطحه باندې د ټولو اتباعو په ځانګړې ډول دښځو ونډه او یا استازیتوب ډاډمن کړي؟

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

(۱۹) مه پوښتنه: کوم ډول خدمتونو ته (لکه د ښوونې و روزنې، عامې روغتیا، امنیت، اوبو رسولو) باید دولت د لومړیتوب حق ورکړي او تاسو ته یې برابر کړي او هم د دغو خدمتونو اداره کول باید دکومو حکومتي مقامونو پر غاړه وي؟

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

(۲۰) پوښتنه: چاپېریال باید څنګه وساتل شي؟

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

..................................................................................................................................................

(۲۱) مه پوښتنه: آیا د دولتي ټاکل شویو او انتصابی مقامونو لپاره باید څه اخلاقي او یا نور ځانګړي معیارونه موجود وي او که نه؟ که لازم وي، نوموړي معیارونه باید کوم وي؟

..........

(۲۲) مه پوښتنه: ښایي په هره ټولنه کې اداري فساد په یوه یا بله بڼه څرګند شي.

که چېرته د اداري فساد په اړه شکایت موجود وي، نو ایا زموږ په هېواد کې د هغه د بررسۍ لپاره کومه مرجع شته که نه؟ که مرجع نه وي، نو د اداري فساد د مخنیوي لپاره څه وړاندیز لرئ؟

..........

(۲۳) مه پوښتنه: نوی اساسي قانون د ولس حقونه څرنګه تضمینوي او د دولت وجایب چې په اساسي قانون کې مځکې په پام کې نیول شوي څرنګه باید پلي او تر سره شي؟

..........

## قضا

د افغانستان پخوانیو اساسي قوانینو داسې مقرري درلودې چې د قضا يي ځواک د وړتیا، خپلواکۍ او صداقت ضمانت يې کاوه. راتلونکی اساسي قانون باید د قضایه ځواک د صلاحیت، خپلواکۍ او صداقت له مسئلو سره څنګه چلند وکړي؟

(۲۵) مه پوښتنه: که داسې په پام کې وي، چې اساسي قانون د قاضیانو چلند او ځانګړنې په ګوته او وټاکي، نو تاسو په دې اړه څه وړاندیز لرئ؟

..........

(۲٦) مه پوښتنه: قاضیان باید څنګه منصوب شي او څه تحصیلي درجې او اخلاقي صفات باید ولري؟

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

(۲۷) مه پوښتنه: آیا تاسو پردې نظریاست، چې قاضیان په خپلو تصمیمونو کې خپلواک وي، چې دهېڅ مرجع اوسرچینې تراغېز لاندې نه وي؟که خپلواک وي، نوخپلواکي یې باید څنګه تامین شي؟

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

(۲۸) مه پوښتنه: په نوي اساسي قانون کې د دولتي رسمي محکمو اړیکې له جرګو او سیمه ییزو شوراګانو سره چې ډېر افغانان د هغو په وسیله خپلې دعوې حلوي، باید څنګه وي؟

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

(۲۹) مه پوښتنه: آیا له عادي قوانینو سره د اساسي قانون د سمون (مطابقت) د پېژندګلوۍ لپاره ځانګړو محکمو یا کومو نورو مېکانیزمونو ته اړتیا شته؟

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

## وسله وال ځواکونه

افغانستان یوه ځواکمن پوځ او منظمو پولېسو ته اړتیا لري، چې د هېواد له ځمکنۍ بشپړتیا او امنیت څخه ساتنه وکړي، خو دا خبره خورا مهمه ده چې نوموړی پوځ، باید ملي ګټې وساتي نه د یوې ډلې او یا د یوه فرد شخصي ګټې.

(۳۰) مه پوښتنه:آیا اساسي قانون باید داسې لارې چارې ولټوي ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې پوځ او پولېس د ملي ګټو لپاره کار وکړي که لازمه وي نو څنګه؟

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

..............................................................................................................

## د اتباعو مکلفیتونه

**(۳۱) مه پوښتنه:** د اتباعو مکلفیتونه او دندې باید يود بل او د هېواد په وړاندې باید څه وي؟

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

## ژبه

څرنګه، چې زموږ په هېواد کې ولس په پښتو، دري، ازبکي، ترکمني، بلوچي، پشه يي، نورستاني او نورو ژبو خبرې کوي.

**(۳۲)مه پوښتنه:** د دولت رسمي ژبه او یاژبې باید کومه (کومې) وي؟

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

**(۳۳) پوښتنه:** اساسي قانون باید د هغو افغانانو د حقونو د ساتلو لپاره څه مقررا ت ولري چې ژبې يې رسمي بڼه نه لري؟ اساسي قانون په نوموړيو ژبو باندې د ښوونې روزنې، لوړو زده کړو، نشراتو او مطبوعاتو په ډګر کې باید څه ډول مقررات په پام کې ونیسي؟

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

.............................................................................................................

## داساسي قانون په اړه نوري پوښتنې او مسئلې

د آزادۍ په پوره احساس سره مهرباني وکړئ د اساسي قانون د پوښتنو اويا مسلو په اړه خپلې تبصرې چې تاسو يې غواړئ د کمېسیون له خوا په پام کې ونیول شي، بیان او وړاندې کړئ.